د حقوق جزا عمومی

- دحقوق جزا تمرینونو حل

۱-حقوق جزا تعریف کړی ؟

ج-حقوق جزا دهغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دی چې جرم.مجرم او جزاګانو څخه بحث کوي

س-حقوق جزا تقسیمات واضح کړي ؟

ج-حقوق جزا لومړی په دو برخو ویشل شوی ملی حقوق او بین المللی حقوق ملی حقوق جزا بیا په دری برخو ویشل شوی دی ۱عمومی حقوق جزا ۲اختصاصی حقوق جزا۳جزایي محکماتو اصول

س-دحقوق جزا په اصطلاح باندی کوم انتقاد واریدیدلی شي ؟

ج-دحقوق جزا په اصطلاح باندی لاندی انتقادونه شوی دی ۱- که نوم ته وکتل شی ویلی شو چې یوازی جزاګانو څخه بحث کوی حال دا چی اوسنی وخت کی په مجرم یوازی جزاګانی نه تطبیق کیږی بلکی امنیتی تدابیر هم ورته نیول کیږی

س-دحقوق جنایی اصطلاح دحقوق جزا اصطلاح سره څه توپیر لری ؟

ج-حقوق جنایی دهغو قواعدو څخه بحث کوی چې په عمومی ډول دجنایاتو څخه بحث کوی او حقوق جزا هغه قواعد دی چې جزا ګانو څخه بحث کوی

س-نظر کومو دلایلو ته ثابتولی شو چې حقوق جزا علم یو مهم علم دی ؟

ج- لاندی دلایلو په اساس ۱-تاریخی قدامت له حیثه ۲-،دهمیشګلی ضرورت له حیثه ۳-دموضوع له حیثه

س-ایا حقوقو جزا دعامه حقوقو څانګه ده او که دخصوصی حقوقوڅانګه ده که ده نو ولی ؟

ج-حقوق جزا دعامه حقوقو یوه څانګه ځکه عامه حقوق هغه مسایل تنظیموی چې یو طرف یی دولت وی دیو جرم ارتکاب سره عامه نظم مختل کیږی او دولت دخپل نماینده په واسطه تعقیبوی چې څانوال نومیږی

س-نن ورځ کریمنالوژی دحقوق جزا په کومو ساحاتو باندی زیات نفوز کړی ؟

کریمنالوژی دحقوق جزا په لاندی ساحاتو باندی زیات نفوز کړی (تقنین ساحه ،په
کماتی ساحه ،دجزاګانو تطبیق ساحه )

. حقوق جزا دکریمینالستیک دعلم سره په کومو مواردو کی همکاری کوی ؟

دجرایمو او مجریمینو په تعریفولو کی

- دحقوق اساسی سره دحقوق جزا همکاری څنګه صورت نیسی ؟

کله چې په اساسی حقوقو کی درغلی وشی حقوق جزا ورته رسیدګی کوی متخلفین یا
غړونکی ته سزا ورکوی

- دعمومی حقوق جزا دتدریس مهم ترین اهداف کوم دی ؟

- دعمومی حقوق جزا دتدریس مهم ترین اهداف په ټولنه کی دجرایمو مخنیوی او دواقعی
دالت تامین دی

یم تمرین

س- دجزایی حقوقی قاعدو ،مدنی حقوقی قاعدو او اداری حقوقی قاعدو اهداف یو دبل سره
ه توپیر لری ؟

ج- دجزایی حقوقی قاعدو هدف په ټولنه کی اجتماعی نظم ټینګول دی مدنی حقوقی قواعدو
دف په ټولنه کی دخصوصی افرادو او اشخاصو روابط ټینګول دی او داداری حقوقی
واعدو هدف په اداراتو کی نظم ټینګول دی

س- جرم کوم ډول حقوقی قاعدی او مدنی تخلف کوم ډول حقوقی قاعدو څخه دسرغړونی په
صورت کی رامینځ ته کیږی ؟

ج- جرم دهغه ډول حقوقی قاعدی څخه دسرغړونی په صورت کی رامینځ ته کیږی چې
ټولنیز نظم یی مختل کړی وی مدنی تخلف دهغه حقوقی قاعدو څخه دسرغړونی په صورت
کی رامینځ ته کیږی چې خصوی فرد متضرر شوی وی

س-جزایي دعوا دچا لخوا اقامه کیږی ؟

ج- جزایی دعوا ددولت نماینده (څانوال )لخوا اقامه کیږی

س-ولی جزایي دعوا دمتضرر شخص لخوا نه اقامه کیږی ؟

ج- ځکه نه اقامه کیږی چې په دی سره حقوق الله یا عامه نظم مختل کیږی او دعامه نظم داعادی مسوولیت دولت لری

س- ایا جزایی دعوا کله هم په مدنی محکمه کی اقامه کیږی او که کیږی په کوم ډول حالاتو کی ؟

ج- جزایی دعوا هیڅکله هم په مدنی محکمه کی نه شی اقامه کیدلی البته مدمنی دعوا دمتضرر شخص په غوښتنه کیدلی شي په جزایی محکمه کی اقامه شي

س- دجزایی مؤیداتو او مدنی مؤیداتو ترمینځ څه توپیر دی ؟

ج- ۱دقواعدو له حیثه توپیر لری ۲دمربوطه محاکمو له حیثه ۳دمربوطه مؤیداتو له حیثه چې جزایي مؤیدات (اعدام حبس)او مدنی مؤیدات جبران خسار او دعقد انحلال دی

س- دادری مؤیداتو نومونه ولیکي ؟

ج- اداری مؤیدات عبارت دی له (توصیه ،اخطار ،کسر معاش،دترفع معطلول،تبدیلی ،مؤقت اخراج او دایمی اخراج)

دریم تمرین

س-دجرایمو او جزاګانو قانونیت دپرنسیپ لنډ مفهوم توضیح کړي؟

ج- په اتلسمه میلادی پیړي کی اروپا کی دی نظری انکشاف وکړه چې بدون دی جزا دقانون څخه نه جرم شته او نه هم جزا (هیڅ عمل جرم نه ګڼل کیږی مګر دقانون په اساس ، هیڅ مجازات کیدلی نه شی مګر دقانون په اساس)

خو داسلامی شریعت ۱۴۰۰کاله دمخه دی موضوع ته اشاره کړی او وایی اصل په اشیاوو کی اباحت دی او الله ج وایی نه یو مونږ چاته عذاب ورکونکی تر څو چې مو ورته خپل استازی نه وی لیږلی فقهی قاعده ده وایی (ډیر بد دی هغه چاته جزا ورکول چې مخکی ورته توضیحات نه وی شوی )یانی اسلام تر دی دمه دا موضوع روښانه کړی وو چې هیڅ شي جرم نه دی مګر هغه چې شریعت او قانون ورته جرم نه وی ویلی او جزایی ورته نه وی ټاکلی

س- دجرايمو او جزاګانو دقانونيت پرنسيپ څه فوايد دي واضح کړي ؟

ج – دجرايمو او جزاګانو قانونيت پرنسيپ ډيرې ګټي لري چې څو يې په لاندې ډول ذکر کوو

۱دجرم تشخيص او پيژندنې له حيثه ۲دقضاتو او محکمو دخودسرې مخنيوی له حيثه
۳دجرايمو دکموالي او مخنيوی له حيثه ۴دمفيده اعمالو داجرا له حيثه ۵ دعدالت له حيثه ۶ دافرادو دحقوقو ازاديو تامين له حيثه

څلورم تمرين

س – دجرايمو او جزاګانو دقانونيت پرنسيپ څخه کوم حقوقي نتايج ترې استخراجيږي ؟

ج- جزائي قوانينومحدود تفسير او ماقبل ته دجزائي قوانينو عدم رجعت

س- ولې جزايي قوانين په وسيع ډول نه شي تفسيرکيدلی ؟

ج- ځکه چې هرډول تفسير په جزائي قوانينو کې جواز نه لري او که وشي امکان لري يو غير جرمي عمل هم جرم وګڼل شي

س- دجزائي قانون لفظي تفسير کوم مزايا او نواقص لري ؟

ج- لفظي تفسير کې دمقنين اصلي هدف لمنځه نه ځي ،دقانونيت پرنسيپ سره په ټکر کې نه واقع کيږي

نواقص (په دې ډول تفسير کې دحقوقو انکشاف او پرمختګ مخه نيول کيږي

س- ولې شخصي تفسير الزامي جنبه نه لري ؟

ج- ځکه چې دا ډول تفسير دخصوصي اشخاصو لخوا ترسره کيږي کومه ذيصلاح مرجع دخيل نه وي نو ځکه الزامي جنبه هم نه لري

س- تقنيني تفسير او قضايي تفسير يو دبل سره څه فرق لري ؟

ج-تقنيني تفسير ته ځکه تقنيني وايي چې دقانون جوړوني ارگان يا پارلمان لخوا ترسره کيږي او قضايي تفسير ته ځکه قضايي تفيسر وايي چې دوخت ضايع کيدو مخنيوی پخاطر دقضايه اورگان لخوا نه تفسير کيږي

س- دقضايي تفسير معايب کوم دی ؟

ج- په دی ډول تفسير کی دقضايه قوی لخوا دمقننه قوی په صلاحيت کی يو ډول مداخله صورت نيسی ،کيدلی شی په دی ډول تفسير کی دمقنين اصلی اهداف څرگند نه شی ،ددی امکان هم شته چې په دی ډول تفسير کی شخصی اغراض هم دخيل شی

پنځم تمرين

س- جزائي قوانين ولی ماقبل ته رجعت نه کوی ؟

ج-ځکه چې په عمومی ډول جزايی قوانين په مابعدو واقعاتو باندی تطبيق کيږی چې همدا دعدالت او دټولنی غوښتنه هم ده

س- په کومو مواردکی جزائی قوانين استثناءً ماقبل ته رجعت کوی؟

ج-۱په هغو صورت کی چې قوانيون پيش بينی کړی وی ۲-په هغه صورت کی چې نرم او ملايم ۳-په شکلی قوانيون کوی ۴-تفسيری قوانينو کی ۵-امنيتی تدابيرو په وخت کی استثناً ماقبل ته رجيعت کوی

س- تفسيری قوانين ولی ماقبل ته رجعت کوی؟

ج-ځکه چې دجزاګانوقانونيت پرنسيپ سره په تصادم کی نه واقع کيږی دا ځکه چې تفسيری قوانين کوم نوی قانون نه بلکی هم هغه پخوانی قوانين دی

س- نرم قوانين ماقبل ته رجعت کوی او کنه او ولی ؟

ج-دبشريت غوښتنه هميشه ديو انسان لپاره دسهولت موجوديت دی ۱-بشری عاطفی له حيثه ۲-ددولت سخاوت له حيثه ۳-دذهنيت تغير له حيثه

س- ایاشکلی جزائی قوانین ماقبل ته رجعت کوی او که نه او ولی کوي ؟

ج-ځکه چي شکلی جزایی قوانین دعدالت دښه تامین لپاره مینځ ته راځی ۲شکلی جزایی قوانین دجرایمو او جزاګانو څخه بحث نه کوی بلکی محاکماتو تطبیق څرنګوالی څخه بحث کوي

س- که په نوی قانون کی دجزا حد اقل او حد اکثر دواړه تغیر وموومی ،نرم قانونو څنګه تشخیصولای شو ؟

ج-هر قانون چي حد اقل يې نرم وي

س-که په نوی قانون کی دحبس دجزا کمیت او کیفیت دواړه تغیر وکړی نو نرم قانون څنګه معلومولای شو ؟

ج-دهر قانون چي کیفیت يې نرم وي هغه نرم قانون دي

س- ماقبل ته دمستمرو جرایمو عدم رجعت موضوع دانی جرایمو دعدم رجعت دموضوع سره څه فرق لری ؟

ج-که چیری په انی جرایمو کی دمحکمی دحکم دقطیعت نه مخکی که نوی قانون رامینځ ته شي انی قوانین ماقبل ته رجیعت کوي ۲-که دمحکمی دحکم قطیعت نه وروسته نوی قانو رامینځ ته شي بیا نرم وی که شدید وی ماقبل ته رجیعت نه کوی ۳-او په مستمر جرایمو کی که نرم وی ماقبل ته رجیعت کوی او که نه وی ماقبل ته رجیعت نه کوی

س- په متنی جزائی قوانینو کی په کومو مواردو کي جزائی استثناءً ماقبل ته رجعت کوی ؟

ج-که چیری دمحکمی دحکم صادرولو څخه دمخه نرم وی استثنا ماقبل ته رجیعت کوي ۲دجرم پوره کیدو څخه مخکی بیا هم که نوی قانون رامینځ ته شی که نرم وی ماقبل ته رجیعت کوی

س-که په یو جنایي موضوع کی دنوی قانون حکم دپخواني قانون دحکم سره عین شي مساوی وی کوم قانون تطبیقیږی او ولی ؟

ج-پخوانی قانون دتطبیق وړ دی او دا ځکه چي نوی قانون کی کوم ډول تغیر او تخفیف نه دی راغلی نوی قانون ماقبل ته رجیعت نه کوي

س- که یو نوی نرم جزائي قانون دمحکمی دحکم دقطعیت څخه وروسته نافذ شی دا قانون ماقبل ته رجعت کوی او که نه او ولی ؟نه کوی ۱-حقوقی دلیل له مخی ۲تخنیکی دلیل په نظر کی نیولو سره

س- په متوالی جرایمو کی ماقبل ته دجزایي قوانینو دعدم رجعت موضوع څنګه ده ؟

ج-که چیری دجرم مادی عنصر تکمیل څخه دمخه نوی قانون نافذ شي که نوی قانو نرم وی او که شدید وی ماقبل ته رجیعت کوی که چیری دجرم څخه وروسته او دمحکمی دقییعت څخه دمخه که نرم وی ماقبل ته رجیعت کوی او که نه وی نو ماقبل ته رجیعت نه کوی .

شپږم تمرین

س- دجرم تبرئه کونکی حالاتو ته ولی داباحت حالت هم وایي

ج-اباحت ورته ځکه وایي چي یو جرمی عمل اجرا کول مباح ګرځوی یانی دی حالتونو ته ځکه داباحبت سببونه ویلی کیږی چي دا حلتونه دیو جرمی عمل اجرا کول مباح ګرځوی

س-دجرم داباحت حالتونه څو ډوله دی نومونه یي واخلي

ج-دافغانست ۱۳۵۵جزا قانون کی دری ډوله دي خو ددیرو هیوادونو په جزایی قوانینو کی بیا په پنځه ډوله دي

۱دحق استعمال ۲دوظیفی اجرا ۳مشروع دفاع او په نورو هیوادونو کی دوه ورسره نور هم دي چي دضرورت حالت او دمجنی علیه درضایت حالت

س-ولی دحق داستعمال په صورت کی جرم نه واقع کیږی

ج- ځکه چي که اسلامی شریعت او جزا قانو ورته دا حق ورکړي دي لکه قصاص او داسی نور

س- دتبرئه کونکی حالت په هیث دحق داستعمال یو مثال ذکر کړي

ج-دوالدینو لخوا دخپلو اولادونو وهل داصلاح په نیت تبرئه کونکی حالت دي

اوو تمرین

س- دتبرئه کونکی حالاتو په حیث دقانون حکم او دآمر امر یو دبل څخه څه فرق لری ؟

ج-دقانوی آمر امر دمادون لپاره منل یو تبرئه کونکی حالت یا مباح ده چې قانونی امر وي خو کله چې غیر قانونی آمر امر کوی او یا قانونی آمر غیر قانونی امر کوی بیا دا تبرئه کونکی حالت نه دی او دلته دری نظریې وجود لری

س-دتبرئه کونکی حالاتو له حیثه دقانونی آمر امر او دغیر قانونی آمر امر یو بل څه فرق لری

ج-هغه آمر چې قانونی وی دهغه امر مادون ته تبرئه کونکی یا مباح عمل دی او هغه آمر چې غیر قانونی وي دهغه امر مادون ته تبرئه کونکی نه بلکی مسوولیت یی مادون ته راجع کیږی چې په ترسره کولو سره به مسوول وګڼل شي

س-دقانونی آمر قانونی امر او دقانونی آمر غیر قانونی امر یو دبل سره څه فرق لری

ج-دقانونی آمر قانوی امر دمادون لپاره اجرا یو تبرئه کونکی حالت دي او هیڅ ستونزه نه لری خو دقانوني آمر غیر قانوني امر داجرا لپاره دری نظری موجودی دی ۱-مطلق اطاعت دی ۲-عدم اطاعت دي چې دا دواړه نظریه اوس نه عملی کیږی ۳-نسبی اطاعت دی چې مادون به امر وګوری که چیری ظاهراً له قانون سره ټکر یی مادون ته نه معلومیږی دا جرا په صورت کی مسوولیت یی آمر ته راجع کیږی خو که چیری ظاهراً ټکر یی معلوم وی له قانون سره مسوولیت یې دا جرا په صورت کی مادون ته هم راجع کیږی

س-څه وخت داقانونی آمر غیر قانونی امر یو تبرئه کونکی حالت په هیڅ ګڼل کیږی

ج-په دوو حالاتو کی دقانونی آمر غیر قانونی امر مادون لپاره ترئه کونکی حالت ګڼل کیږی ۱-په هغه صورت کی چې مادون خبر نه وی چې دا غیر قانونی امر دقانو یا هم اسلامی شریعت سره په ټکر کی دی ۲-په هغه صورت کی چې مادون دغیر قانونی امر دغیر قانونی والی خبر په لیکلی ډول خبر آمر ته ورکړی وی خو هغه بیا هم په اجرا ټینګار کړی وي

اتم تمرین سوالونه

س-په مشروع دفاع کی دتجاوز شراطونه کوم دي ؟

۱ج-تجاوز باید غیر مشروع او غیر قانونی وي ۲تعرض او تجاوز باید حقیقی او واقعی وی۳تعرض او تجاوز باید فعلی وی ۴-تعرض باید شدید او خیم وی

مشروع دفاع کی ددفاع شرطونه کوم دي ؟

ی دفاع باید ضروری وی ۲-دفاع باید فعلی وی ۳-دفاع باید دتعرض سره متناسب وی

، مشروع دفاع کی تجاوز داکراه سره څه فرق لری

مشروع دفاع چې دی دا یو تبرئه کونکی حالت دی او جرم له منځه ځی او مشروع ی البته اکراه کی جرم له منځه نه ځي او دا یو تبرئه کونکی حالت نه دی بلکی صرف س مجازات ورکمل کیږی

ناسب په مشروع دفاع کی څه مفهوم لری ؟

ناسب حدف دا دی چې که یو کس باندی څومره تجاوز شوی وی او دکومی وسلی نه ز شوی وی دی هم مقابل کی همدومره حق لری چې دهم دومره اندازه وسلي نه دځان اع وکړی خو که چیری دچاقو په مقابل کی دی له توپک نه کټه واخلی دا بیا له دی خوا جاوز کنل کیږی

دمشروع دفاع په حالت کی ددفاع دمشروع والی منطق څه دي ؟

ه دی کی دو نظریي وجود لري ۱-په مشروع دفاع کی شخص روحی او ذهنی فشار ی راځی او خپله ازاده اراده له لاسه ورکوي نو ځکه ورته مسوولیت نه راجع کیږی خو ظریه رد شوی ده ۲-دا چې تعرض او تجاوز په انی ډول رامینځ ته کیږی او دلته مجال ه چې دفعی لپاره محکمی ته خبر ورکړل شي په همدی خاطر چې دا ډول پیښی زیات نه نو دفاع کوونکی ته حق ورکړل شوي دی څو دتعرض په تناسب دتعرض په حالاتو کی ن نه دفاع وکړی او دتجاوز مخه ونیسی .

ۍ تمرین سوالونو حل

-ضرورت حالت لپاره کوم شریط باید وجود ولری؟

-ددی لپاره څلور حالته دی ۱-خطر باید فعلی وی ۲-خطر باید شدید او وخیم وی ۳-خطر بد پخپله دشخص لخوا په غیر مشروع ډول نه وی رامینځ ته شوی ۴-تناسب باید موجود ي

س-دضرورت په حالت کی ولی مدنی مسوولیت په خپل حال باقی پاتی کیږی حال دا چې په مشروع دفاع کی هم دجزائي مسوولیت او هم مدنی مسوولیت دواړه له مینځه ځي ؟

ج-ځرنګه چې مشروع دفاع یو تبرئیه کونکی حالت دی او جرم پکی بالذات لمنځه ځي مګر ضرورت په حالت کی چې هغه هم یو تبرئیه کونکی حالت دی جزایي مسوولیت پکي نشته خو مدنی مسوولیت پکي وجود لري یعنی کوم مادي ضرر او خساره چې رسیدلی وي هغه باید جبران کړای شي

س-ایا دافغانستان دجزاقانون له نظره دضرورت حالت یو تبرئه کونکی حالت دي او که څنګه ؟

ج-دافغانستان ۱۳۵۵کال دجزا قانو ۹۵ماده کي دضرورت حالت داضطراری حالت تر عنوان لاندی تشریح شوی دی او دغه حالت دجزایي مسوولیت درفع کیدو یو حالت ګڼل شوی دی نه یو تبرئیه کونکی حالت .

س-دضرورت حالت داکراه دحالت سره څه فرق لری ؟

ج-دضرورت حالت داکراه حالت سره دا فرق لری چې دضرورت په حالت کی جرم لمینځه نه ځي یواځي جزایي مسوولیت یی لمینځه ځي خو داکراه په حالت کي جرم او جزا دواړه لمینځه ځي

س-دضرورت حالت دمشروع دفاع سره څه فرق لري ؟

ج-دضرورت حالت او مشروع دفاع لاندی فرقونه سره لري ۱دتعرض له حیثه ۲دمتعرض له حیثه ۳-دتناسب له حیثه ۴-دضرر له حیثه ۵-دمدنی مسوولیت له حیثه

س-ایا تبرئه کونکی حالتو دموجودیت په صورت کی تبرئه شوی شخص ته دمجرم کلمه استعمالوی شو او کنه او ولی ؟

ج-نه تبرئیه شوی شخص ته دمجرم کلمه نه شو استعمالولی ځکه چې دضرورت په حالت کی جرم لمنځه ځي او دا یو تبرئه شوی عمل دي او نن ورځ جزایي قوانینو او قضایي رویو په عمومی ډول دا منلی دی چې دضرورت په حالت کی جرم نه واقع کیږی

سم تمرین سوالونو حل

س-ولی دپرنسیپ په اساس دمجنی علیه رضایت یو تبرئه کونکی حالت نه گنل کیږی ؟

ج-دا ځکه چې دجرم ارتکاب څخه اجتماع متضرر کیږی او نو طبعی دا چې دا موضوع دمجنی علیه پوری اړه نه لری اګر که دهغه رضایت هم شامل وي

س-دکومو شرایطو لاندی دمجنی علیه رضایت یو تبرئه کونکی حالت گنل کیږی ؟

ج- په لاندی شرایطو دمجنی علیه رضایت تبرئیه کونکی حالت گنل کیږی ۱-رضایت باید دفوت او یا دجرحی څخه دمخه ورکړل شوی وی ۲-مجني علیه باید رضایت ښوودلو په وخت کی پوره ازاده او دارادی خاوند وی عاقل وی بالغ وی او غیر مکره وی او رضایت یی په صحیح ډول ښوودل شوی وی

یو لسم تمرین سوالونو حل

س-دجرم مادی عنصر مفهوم توضیح کړي ؟

ج-دجرم متشکله عناصرو څخه دویم عنصر دی یو شي چې اسلامی شریعت اویا وضعی قوانینو کي منع شوی وی عمل واقع او یا حد اقل شروع شوی وی مادی عنصر څخه عبارت د ي

س-دجرم دمادی عنصر دتکمیل او عدم تکمیل له حیثه ټول جرایم په څو ډولونو ویشلای شي؟

ج-دجرم مادی عنصر دتکمیل او عدم تکمیل له حیثه په دو ډلو ویشلای شو ۱تکمیل شوی ۲ناتکمیل شوی

س-اجرایي جرایم او اهمالی جرایم یو دبل څخه څه فرق لري؟

ج-اجرایي جرایم هغه ته وایي چې مادی عنصر یی په مثبت ډول وی لکه قتل او سرقت ۲اهمالی احرایي جرایم هغه دي چې نتیجه یي عین مثبت او اجرایي غوندی وي او شکل یي بدل وی لکه دمور لخوا دعدم تغذی په وجه دماشوم وژل

س-اهمالی احرایي جرایم او خالصه اهمالی جرایم یو دبل سره څه توپیر لری؟

ج-اهمالی اجرایي جرایم هغه دي چي نتیجه یي په نظر کي نیول کیږی لکه دیو ماشوم قتل دغذا نه ورکولو په صورت کي ۲خالص اهمالی کي بیا نتیجه په نظر کی نه نیول کیږی بلکی خپله همدا ترسراوي یي جرم دی لکه اهمال دکومک دنوان په صورت کی دهغه چا په مقابل کی چي خطر سره مخ وی

س-دجرم دتشبث لپاره کوم شرایط ضروری دی ؟

ج-دجرم تشبث لپاره لاندی شرایط ضروری دي ۱دجرم مفکوره ۲تصمیم او پلان ۳دمقدامتی وسایلو برابرول ۴دجرم شروع ۵دجرم اشباع او تکمیل

س-دعلیت یاسببیت رابطه توضیح کړي ؟

ج-علیت او سببیت رابطه په دی مانا چي احمد محمود په چاقو مجروح کړه نومعلومه مثله ده چي داحمد چاقو دمحمود په مجروح کولو کی مستقیمه رابطه ده

دولسم تمرین سوالونو حل

س-دجرم معنوی عنصر تعریف کړي؟

ج-دجرم معنوی عنصر په یو جرمی عمل کی دشخص ارادی ددخیل والی څخه عبارت دی

س-دجرم اراده څه ته وایي ؟

ج-جرمی اراده هغه ته وایي چي په حقیقت کی دیو عمل اجرا خواهش او تقاضه ده دهغه عمل په ماهیت درک کولو سره

س-قصد او خطا یو دبل سره څه فرق لري؟

ج-که چیری اراده په یو جرمی عمل کی په مستقیم ډول دخیل وی قصد ویل کیږی او که چیرته اراده په یو جرمی عمل کی په مستقیم ډول دخیل نه وی خطا ویل کیږی

س- قاضی دکومو معیارونو په واسطه پوهیدلی شي چي په یو جرم کی خطا وجود لري ؟

ج- خطا ارزیابی لپاره دو طریقی دی ۱-قاضی دیو شخص خطا ارزیابی کول دبل شخص عملی کړو وړو سره مقایسه کوی دوهم برعکس سن او سال عقلی دماغی قوی دهغه شخصیت څرنګوالی ارزیابی کوی

دیارلسم تمرین سوالونو حل

س-په کومو حالاتو کی دجرم معنوی عنصر له منځه ځي؟

ج-په لاندی حالتونو کی دجرم معنوی عنصر لمنځه ځي ۱دجنون په حالت کي ۲ دطفلیت په حالت کي ۳داکراه په حالت کي

س-طفل چاته ویلی کیږی ؟

ج-طفل هغه چاته ویلی کیږي چي داتلس کلنی عمر یي نه وی پوره کړي

س-اطفال په عمومی ډول په څو گروپونو باندی تقسیمولای شو ؟

ج-اطفال په عمومی ډول په دریو گروپونو تقسیم شوی دی ۱غیر ممیز طفل چي اوو کلنی عمر یی نه وی پوره کړي ۲-ممیز طفل چي او کلنی نه تر دولس کلني پوری عمر ولری ۳-خوانکی طفل چي دولسو او اتلسو په مینځ کی قرار ولری

س-په کومو اطفالو باندی جزائي دعوا نه شي اقامه کیدلي ؟

ج-په هغو اطفالو باندی چي دولس کلنی عمر یي نه وی پوره کړي جزایی دعوا پری نه شي اقامه کیدلی

س-که یو طفل عمر یي له ۱۲کلونو څخه زیات او ۱۸کلونو څخه کم وی دجنایت جرم مرتکب شي دهغه لپاره کوم تجاویز په نظر کی نیول کیږي؟

ج-هغوی لپاره جزاګانی نه بلکی امنیتی تدابیر دهغوي لپاره نیول کیږی څو دتربیي په موخه او دهغوي داصلاح لپاره تدابیر تطبیقیدلای شي څو هغوي اصلاح شي او بیا اعادت ونه کړي

څوارلسم تمرین سوالونه حل

س-کوم ډول جنون دجزائي مسوولیت درفع کیدو سبب گرځي او برعکس کوم ډول جنون جزائي مسولیت لمنځه نه شي وړلای؟

ج-هغه ډول جنون چي دجرم دواقع کیدو په جریان کی وجود ولری او شخص په صحیح ډول دومره مختل وی چي دجرمی او غیر جرمی اعمالو فرق ونه شي کړای برعکس هغه جنون چي دجرم واقع کیدو نه مخکی یا وروسته وی مسوولیت نه شي رفع کولي

س-دجنون په حالت کی جزائي مسوولیت له مینځه ځي ؟

ج-ځکه چي مجنون خپله اراده له لاسه ورکوي او کله چي په جرم کی اراده یا معنوی اړخ نه وی جرم نه کنل کیږی

س-دجنون مجاور حالت کوم دي ؟

ج-دجنون مجاورت حالت هغه دي چي گذری یا تیریدونکی وی او دایمی ډول نه وی همدا مجاورت او جنون ترمینځ توپیر هم دی

س-په کم حالت کی په خوب کی گرځیدل دجزائي مسووليت درفع کیدو سبب کیږی ؟

ج-که چیری دمرتکب شخص تقصیر موجود نه وی نو په خوب کی گرځیدل ورته دشخص جزایي مسوولیت درفع کیدو باعث گرځی

س-کوم ډول سکر دجزائي مسووليت درفع کیدو سبب کیږی ؟

ج-غیر ارادی سکر چي شخص یی دعواقبو نه خبر نه وی دجزایي مسوولیت درفع کیدو سبب کیږی

س-کوم ډول سکر دجزائي مسوولتی درفع کیدو سبب نه کیږی ؟

ج-هغه چي په ارادی ډول استعمال شوی وی او دعواقبو نه خبروی

س-کوم ډول سکر دجزائي مسووليت دتشدید سبب کیږی ؟

ج-هغه ډول سکر چي شخص خان ته دجرات ورکولو په موخه استعمال کړی وی او بیا جرم وکړی

س-هغه جرم چي دمصنوعی خوب په حالت کی دیو چا لخوا واقع کیږی دخوب ورکونکی او په جرم مرتکب شخص دجزائي مسوولیت دځرنگوالی په باره کی خپل نظر وواياست

ج-که چیری یو شخص دیو جرم دارتکاب په منظور مصنوعی خوب ته حاضر شوی وی او یاداچی تلقین کونکی شخص هغه دجرم ارتکاب لپاره مصنوعی خوب بیده کړی وی نو په دی صورت کی نه یواځی ددواړو جزایي مسوولیت نه رفع کیږی بلکی تشدید حالت په توگه هم کنل کیږی

پنځلمس تمرین سوالونو حل

س-داکراه په حالت کی ولی جزائي مسولیت لمنځه ځي؟

ج-ځکه چي دشخص ازاده اراده دجرم ارتکاب کی دخیل نه وی نو دهغه عمل داجرا ځخه مسوول نه ګڼل کیږی

س-اکراه په څو ډوله ده ؟

ج-اکراه په دو ډوله ده ۱فزیکی اکراه ۲-معنوی اکراه

س-ددی لپاره چي باید اکراه دجزائي مسوولیت رفع کیدو سبب شي باید کوم شرایط وجود ولري؟

ج-اکراه باید فعلی وی ۲-اکراه باید شدید وی ۳-اکراه باید نامشروع وی ۴-اکراه باید غیر قابل پیشبینی وی

س-داکراه په حالت کی جزائي مسولیت چاته راجع کیږی او ولې ؟

ج-داکراه په صورت کی جزایي مسوولیت هغه شخص ته راجع کیږی چي اکراه یې کړي او شخص یې مجبور کړی چي یو جرمی عمل ترسره کړي

س-دجزائي مسوولیت درفع کیدو حالت دتبرائیه کونکو حالتو سره څه فرق لري؟

ج-۱-په تبرئیه کونکی حالت کی هم جرم لمنځه ځی او هم یې جزایي مسوولیت، خو جزایي مسولیت رفع کیدو په حالت کی جزایي مسوولتی لمنځه ځي خو جرم نه

س-دجزائي مسوولیت درفع کیدو حالاتو کی برسیره په جزائي مسوولیت ولی جرم هم لمینځه ځي؟

ج-دجزایي مسوولیت درفع کیدو په حالاتو کی جزایي مسوولیت لمینځه ځي خو جرم نه نو ځکه چي داړتیا په صورت کی امنیتی تدابیر ورته نیول کیږی

س-ایا دجزائي مسوولیت درفع کیدو په حالاتو کی چي یو شخص جزایي مسوولیت رفع شوی وی هغه ته دمجرم کلمه استعمالولای شو او کنه او ولی ؟

ج-په تبرائیه کونکی حالاتو کی دعمل مرتکب ته مجرم نه شو ویلی ولی دجزایي مسوولیت رفع کیدو په حالاتو کی دشخص جزایي مسوولیت وجود نه لری ولی هغه دمجرم کلمه استعمالوی شو لکه مجنون مجر ،طفل مجرم او داسی نور

پای

درنښت

صاحب داد همدرد